اتاق تجـــارت و صنایـع افغانســـتان
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

# مطبوعاتي خبرپاڼه

## افغان سوداګر لا هم له ناامنۍ، کمزورو بېخبناو او د تقاضا له کموالي څخه سر ټکوي. خو د ښه راتلونکي په باب هيله مندي ډېره شوې ده.

د ۱۳۹۳ کال د سلواغې ۱۱ مه

کابل، افغانستان: د کاروبار د ټولیزو شرایطو سروې پر بنسټ چې نن د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق لخوا خپره شوه، په ټوله کې د کاروبار شرایط په مني کې ښه شوي دي. درې میاشتې وړاندې د ټاکنیزو کړکېچونو او سیاسي ناخوالو له امله، سوداګرۍ او پانګې اچونې له ستونزو سره مخ وې. سوداګر لا هم د کاروبارو اوسني وضعیت د عادي حالت په پرتله خراب بولي خو راتلونکو شپږو میاشتو ته ډېرې هیله مندۍ لري.

د نورو سکتورونو په پرتله تولیدي سکتور او لوی شرکتونه ډیر خوشبین دي، خو د پخوا په څېر اوسنۍ وضعیت له هغه څه سره لکه څنګه چې په هکله یې وړاند وینه شوې وه سمون نلري. دا ځل بیا هم پوښتل شوي شرکتونه د خپلو راتلونکو شپږو مشاتو فرمایشونو په اړه ډېر هیله مند دي. د کاروبار د سروې له مخې، د سوداګرۍ او تولید سکتورونه به په راتلونکو دریو میاشتو کې ډېره پکار ګمارنه ولري.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق د عامل پلاوي رئیس ښاغلي عتیق الله نصرت دې وروستي رپوټ ته په اشارې سره وویل چې" په ۲۰۱۴ کال کې د سوداګرۍ پر وړاندې تر ټولو ستره ستونزه ناامنۍ وه؛ شاوخوا ٪۸۰ شرکتونه په دې باور دي چې په تېر کال کې امنیتي وضعیت خراب شوی او یا یې هم هیڅ بدلون ندی موندلی."

نوموړي زیاته کړه "د بیخبناو کموالي د کاروبار د پرمختیا پر وړاندې دوهم خنډ دی. له ۷۷ سلنو ډېرو پوښتل شویو شرکتونه بیخ بناو ته د نه لاسرسي په ځانګړې توګه د برېښنا د کموالي له امله سر ټکولي دی. غیر شفاف پروسیجر، سیاسي لاسوهنې، بډې او ډېر درانه بانکي ضمانتونه په عمومي داوطلبي ګانو کې د ستونزو له ډلې څخه دی."

د کاروبار سروې په کابل بلخ، قندهار، ننګرهار او هرات ولایتونو کې په لینډې میاشت کې ترسره شوه. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق د څېړنو دفتر په ۲۰۱۲ کال کې جوړ شوی دی او دا سروې یې د شرکتونو له مسؤلینو سره د تلیفوني اړیکو له لارې تر سره کړې ده. د دې دفتر تخنیکي ملاتړ د آلمان د مرستندویه ادارې د دوامداره اقتصادي پرمختیا او د ګمارنې د ډېرولو پروګرام، پر غاړه لري.

سر بېره پر دې په شمال شرقي ولایتونو (قندوز، بدخشان، تخار، سمنګان او بغلان) کې هم آزمایشي سروې ترسره شوې ده. په ټوله کې له ټول هېواد څخه ۱۲۰۹ شرکتونه سروې شوي دي.

د دې رپوټ د بشپړ متن د ترلاسه کولو لپاره د اتاق د ویب سایت www.acci.org.af د څېړنو او سروې پاڼې ته مراجعه وکړئ

اړیکه: یونس نګاه، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق د څېړنې او سروې د څانګې مسؤل، ۰۷۰۰۰۰۱۳۱۵
younus.negah@acci.org.af